# پښتون قام اسلحه او هوائي ډزې

اجمل یوسفزے

د نړۍ د قامونو په معاشرو کښې ډېر داسې کارونه او رواجونه دي چې د هغې فائده خو نۀ وي خو نقصانونه ئې هم ډېر وي. د پښتنو په معاشره کښې هم داسې ډېر بد کارونه او یا رواجونه شته چې د هغې فائده خو شته خو نقصانونه ئې هم ډېر دي.

په دغه بد کارونو او یا رواجونو کښې یو بد کار د هوائي ډزو کول دي. پښتانه د هرې خوشحالۍ په موقعه کۀ وادۀ ښادي وي او یا د خوشحالۍ څه بله موقعه وي هوائي ډزې ضرور کوي. حالانکې کۀ وکتلے شي نو په دې کار کښې فائده نشته او تاوان ئې ډېر دے. په مالي لحاظ سره هم او په جاني لحاظ سره هم.

کومې پیسې چې په کالتوسو خرچ شي کۀ دغه پیسیې د وادۀ خاوند له ورکړے شي نو هغه به ئې په خپل څه کار کښې ولګوي او په ښه به ئې راشي. او یا ئې د خدائے په لاره کښې چرته یو غریب له ورکړي نو هغه به ور ته دعا کوي. کوم کسان چې هوائي ډزې کوي هغې ته څه پته ده چې د دې کلاشنکوف نه وتې ګولۍ چې د آسمان نه واپس زمکې ته راځي نو هغه په انسانانو راپریوځي او کۀ په ځناورو. په دواړو صورتونو کښې تاوان دے. خو تاوان د چا دے. د هغه چا دے څوک چې په ګولۍ ولګېږي. چا چې ډزې کړې دي هغه خو ترې خبر هم نۀ شي. کله چې یو تن کلاشنکوف راواخلي ډزې شروع کړې او آسمان په ګولو ولي نو دغه ګولۍ آسمان ته خو نۀ رسي خو واپس زمکې ته راځي.

دې ګولو ته د آسمان او زمکې په مینځ کښې څه داسې څیز نۀ وي لګېدلے چې دغه ګولۍ واپس زمکې ته د راپرېوتلو نه منعې کړي کله چې دغه ګولۍ زمکې ته راورسي نو په زمکه د خدائے پاک مخلوقات آباد دي. او دغه ګولۍ په انسانانو راپریوځي او یا په ځناورو. اوس دغه ګولۍ په کوم انسان راپریوځي هغه انسان زخمي شي او یا مړ شي. نو د دغه انسان ګناه څه ده. کوم انسان چې دغه هوائي ډزې کړې وي هغه خو به خپلې خوشحالۍ کوي خو د هغه په هوائي ګولۍ د مړ شوي او یا ژوبل شوي تن په خاندان به څه تېرېږي.

په دې سوچ په کار دے د تېر ورځو کې اختر په ورځ د سحر چرته تلمه چې لاره کښې مې څه کسان ولاړ ولیدل چې دا خبره ئې کوله چې بېګاه خلقو هوائي ډزې کولې نو په هغې یو هلک ولګېدلو چې مړ شوے دے. د دې هلک پلار استاد دے ډېر زیات ښه سړے دے او د هیچا سره ئې څه

دښمني نښته ما د ځان سره سوچ کولو چې د اختر دې ورځ ته ګوره او د دې غریبانانو دې غم ته. چې د هلک په مور او پلار،ورونو او خویندو باندې به څه تېرېږي.

چې چا د خپل زړۀ د خوشحالولو دپاره دې غریبانانو ته د اختر په ورځ دومره لوئې غم جوړ کړو. پښتنو ته حېران شم چې د اختر په ورځو کښې چرته د کوره بهر راوځم نو تقریباً د هر هلک په لاسو کښې به د پلاسټک تماچه یا کلاشنکوف وي. او د اختر پیسې چرته په یو ښه څیز د لګولو په ځائې به ئې پرې دغه څیزونه اخستي وي.

پښتون په خپل کور کلي کښې کله په سر کله یو خوا خي او کله بل خوا. پښتونخوا تالا ترغه شوه نو د دغه اسلحو د لاسه خو پښتانه خپلو کشرانو له په خپله دغه ټوپک تماچې اخلي. کۀ بازار ته لاړ شې نو د یو دوکاندار سره هر قسم د وړو د لوبو سامان وي خو د دغه دوکاندار به د هر څه نه زیات تماچې او کلاشنکوفونه خرڅوي. او د څو پیسو د ګټلو دپاره باوجود د دې چې حکومت پرې پابندي هم لګولې وي خو خرڅوي یې او کۀ قام تباه کېږي او کۀ بربادېږي دے ځان له پیسې ګټي.

بل خوا پښتون دے چې ښه ګوري چې په پښتون قام کومه تباهي راغلې ده د دغه اسلحې د لاسه ده خو بیا هم خپل کشران نۀ منع کوي.

☆☆☆

# عجیبه ده

## عجب ګل

پاکستان د نړۍ په لویو ملکونو کښې یو دے ولې مشران ئې د پخوانو نوابانو او راجه ګانو په شان په کپرو کښې هغه دماغ نۀ لري چې په آزادانه ډول خپل ریاست وچلولے شي. د یو آزاد او خپلواک هېواد خصوصیت دا دے چې دے دې د واکمنۍ په لحاظ (Sovriegn) یعنې د اقتدار آعلی خاوند وي او په سیاسي ژبه کښې مملکت یا ریاست دغه هېواد ته وئیلے شي. کوم هېواد سره چې اقتدار آعلی نۀ وي نو هغې ته مملکت یا ریاست (State) نۀ شي وئیلے کېدے.

مطلب دا چې ریاست خپله آزاده خارجه او داخله پالیسي لري. خو د پاکستان دا صورت حال دے چې د یو بل په امسا قدمونه ږدي. دنیا کښې داسې نور هم ډېر بې اختیاره هېوادونه شته ولې د هر ملک واکمنو ځان له یوه کشتۍ خوښه کړې وي. پاکستان په دوه کشتو پښې ایښې دي. د یوې کشتۍ مانګے امریکه او د بلې چین دے. دواړه کشتۍ د یو بل نه رو رو لرې کېږي. نو چې د پاکستان یوه پښه په یوه کشتۍ او بله په بله کشتۍ وي نو دې سره به د پاکستان انجام څه وي؟ ده عجیبه خبره کۀ نه.